# الحجر

مکی سورة دی ۹۹ آیتونه لری

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ وَقُرۡءَانٖ مُّبِينٖ ١

الف، لام،را.( په حقیقی معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی).
دا د( با عظمت الهی) کتاب او واضح قرآن آیتونه دی( چې حق او باطل یې په واضحه توګه تشریح او تفکیک کړی نو باید مخاطبین یې په پوره توجه سره واوری).

رُّبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡ كَانُواْ مُسۡلِمِينَ ٢

کافران( که نن د الله تعالی په نازل کړی مبارک قرآن ایمان را نه وړی، بیا به د عذاب په لیدلو د پښیمانۍ او افسوس لاسونه مروړی او) ډیره ارزو به کوی چې ای کاش دوی هم( د الهی احکامو او فرمانونو تابع) مسلمانان وی.

ذَرۡهُمۡ يَأۡكُلُواْ وَيَتَمَتَّعُواْ وَيُلۡهِهِمُ ٱلۡأَمَلُۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ٣

پریږده چې وخوری( وښبی او له دنیوی فانی ژوند له مزو چرچو) خوندونه واخلی او پخپلو اوږدو ارزوګانو کی ډوب وی، ډیر زر به( پخپل شوم انجام) خبر شی.

وَمَآ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٞ مَّعۡلُومٞ ٤

او مونږ چې هر ښار( او د هغه ولس د پراخ فساد او بدو اعمالو له امله) تباه کړی( د ژوند یوه ټاکلی موده او د تباه کیدو نیته یې لاپخوا په لوح محفوظ کې) ټاکل شوې وه.

مَّا تَسۡبِقُ مِنۡ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ ٥

د هر قوم او ملت( د عروج او زوال یا حیات او ممات لپاره) یو وخت ټاکل شوی( چې د سترګې د رپ په اندازه پکې) وړاندې والی او وروسته والی نه راځی .

وَقَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِي نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ إِنَّكَ لَمَجۡنُونٞ ٦

او (کافران) وایی: ای هغه سړیه چې( آسمانی) ذکر( قرآن) درباندې نازل شوی، ته خو سوچه لیونی یې.

لَّوۡ مَا تَأۡتِينَا بِٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٧

که ته په رښتیا پیغمبر یې نو ولې مونږ ته پرښتې نه راولې( چې ستا د نبوت تصدیق وکړی).

مَا نُنَزِّلُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَمَا كَانُوٓا۟ إِذًا مُّنظَرِينَ ﴿٨﴾

( دوی باید یوه شی چې) پرښتې خو مونږ د یوه مسلم (او فیصله شوی اقدام د تطبیق لپاره) نازلوو، او په نزول سره یې بیا( دغو لجوجو کافرانو ته په عذاب ورکولو کې) هیڅ مهلت او ځنډ نشته.

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿٩﴾

بیشکه چې قرآن، مونږ نازل کړی او همدا مونږ یې( له تحریف او زوال نه)ساتونکی یو.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِى شِيَعِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٠﴾

( ای محمده!) مونږ ستا نه وړاندی هم ډیرو ولسونو ته پیغمبران لیږلی دی.

وَمَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿١١﴾

او هر پیغمبر چې خپل ولس ته ورغلی، د هغوی له ملنډو او مسخرو سره مخامخ شوی دی.

كَذَٰلِكَ نَسْلُكُهُۥ فِى قُلُوبِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١٢﴾

هو- په همدې توګه مونږ( ستا د عصر) د مجرمانو زړونو ته هم، په حق ملنډو ته ځای ورکوو( او همدغه د دوی د شقاوت او عداوت سزا ده) .

لَا يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ۖ وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾

چې ایمان نه راوړی او د خپلو اسلافو په شان( په الهی آیتونو او پیغمبر باندی ملنډی وهی).

وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَظَلُّوا۟ فِيهِ يَعْرُجُونَ ﴿١٤﴾

( او که د حقایقو د پوهاوی او اثبات لپاره) ورته مونږ د آسمان کومه دروازه هم په مخ خلاصه کړو او دوی ورباندې په منډه وخیژی.

لَقَالُوٓا۟ إِنَّمَا سُكِّرَتْ أَبْصَٰرُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُورُونَ ﴿١٥﴾

بیا به هم ووایی چې دا خو په مونږ چشم بندی او کوډې شوی.

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِى ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا وَزَيَّنَّٰهَا لِلنَّٰظِرِينَ ﴿١٦﴾

او بیشکه چې مونږ په آسمان کی برجونه جوړ کړی او هغه مو د لیدونکو( د عبرت) لپاره په (ستورو) ښکلی کړی.

وَحَفِظۡنَٰهَا مِن كُلِّ شَيۡطَٰنٖ رَّجِيمٍ ١٧

او هغه مو د هر رټل شوی شیطان څخه په امن کی ساتلی دی.

إِلَّا مَنِ ٱسۡتَرَقَ ٱلسَّمۡعَ فَأَتۡبَعَهُۥ شِهَابٞ مُّبِينٞ ١٨

خو که کوم شیطان په غلا( د لوړو مقاماتو د کومې خبرې) د اوریدو هڅه وکړی نو د یوه ځلانده ستوری شغله یې په مخه واخلی(او پخپلو لمبو یې وسوځوی).

وَٱلۡأَرۡضَ مَدَدۡنَٰهَا وَأَلۡقَيۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيۡءٖ
مَّوۡزُونٖ ١٩

او ځمکه مو وغوړوله او غرونه مو پکې( لکه میخونه) ټک وهل او هر ډول مناسب نباتات او ګیاوې مو پکې را زرغونې کړې.

وَجَعَلۡنَا لَكُمۡ فِيهَا مَعَٰيِشَ وَمَن لَّسۡتُمۡ لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ ٢٠

او په هغې کې مو ستاسو او هغو( حیواناتو، حشراتو او نورو) لپاره چې روزی یې ستاسو په غاړه نه ده، د ژوندانه د بیلابیلو وسایلو او منابعو بندوبست وکړ.

وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٖ مَّعۡلُومٖ ٢١

او د هر شی خزانې او زیرمې زمونږ سره دی خو په یوه ټاکلی اندازه یې رالښکته کوو.

وَأَرۡسَلۡنَا ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَسۡقَيۡنَٰكُمُوهُ وَمَآ
أَنتُمۡ لَهُۥ بِخَٰزِنِينَ ٢٢

او مونږ یو چې( د وریځو او نباتاتو) بارداروونکی بادونه رااللوزوو او له آسمانه اوبه نازلوو او تاسو( او ستاسو ځمکې وربانده) خړوبوو( په آسمان او ځمکه کې) د دغو اوبو ذخیره کول ستاسو له وس او واک نه پوره نه دی.

وَإِنَّا لَنَحۡنُ نُحۡيِۦ وَنُمِيتُ وَنَحۡنُ ٱلۡوَٰرِثُونَ ٢٣

او ژوند او مرګ زمونږ په واک کې دی او بلاخره( د هر چا ګټلی مال او سرمایه هم بیرته) مونږ ته په میراث پاتې کیږی.

وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَـْٔخِرِينَ ﴿٢٤﴾

او بیشکه ستاسو د اسلافو او اخلافو( حالات، اعمال او شمیر) هم مونږ ته معلوم دی.

وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ ۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥﴾

او همدا ستا رب دی چې هغوی به بیرته راژوندی کوی ځکه( الله تعالی) په ټولو چارو پوه او د حکمت څښتن ذات دی.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ مِن صَلْصَـٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٦﴾

او انسان مو له تورې بویناکې خټې له وچ کودړی نه پیدا کړ( یعني لومړی د آدم تنه له خوسا شوې خټې جوړه شوې بیا وچه شوې او بیا پخه شوې، بیا له مختلفو تطوراتو او تکاملاتو نه وروسته دې درجې ته رسیدلې چې انسانی روح پکې پو کړی شی).

وَٱلْجَآنَّ خَلَقْنَـٰهُ مِن قَبْلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾

او لومړنی پیری مو ( له انسان نه)لا ډیر پخوا له بې لوګی اور نه پیدا کړی و.

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَـٰٓئِكَةِ إِنِّى خَـٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن صَلْصَـٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ
مَّسْنُونٍ ﴿٢٨﴾

او کله چې ستا رب، پرښتو ته وویل: زه له یوې وچې تورې خټې نه یو بشر جوړوم.

فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَـٰجِدِينَ ﴿٢٩﴾

نو چې هغه ښه جوړ او تیار شی او زه پکې له خپل روح(د ژوند، علم، قدرت، مدیریت او اختیار له مجموعې) نه ورپو کړم، تاسو ورته( د تعظیم ) سجده وکړی.

فَسَجَدَ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴿٣٠﴾

ټولو پرښتو بې له کومې استثنا( آدم ته د تعظیم) سجده وکړه.

إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ مَعَ ٱلسَّـٰجِدِينَ ﴿٣١﴾

خو ابلیس په سجده کوونکو کې له ګډون نه انکار وکړ.

قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٣٢﴾

(الله تعالی) وفرمايل: ای ابليسه! څه دربانديٰ شوی چې په سجده کوونکو کې شامل نه شوې؟

قَالَ لَمۡ أَكُن لِّأَسۡجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقۡتَهُۥ مِن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ
مَّسۡنُونٖ ﴿٣٣﴾

هغه وويل: له ماسره نه ښايي هغه بشر ته سجده وکړم چې د تورې او بويني ختې له وچ کودړی دې جوړ کړی دی.

قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٞ ﴿٣٤﴾

(الله تعالی) وفرمايل: له دی( عالی مقام نه چې د مقربانو لپاره ځانګړی دی) رټل شوی ووځه.

وَإِنَّ عَلَيۡكَ ٱللَّعۡنَةَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٣٥﴾

او تر قيامته دې دربانديٰ لعنت وی.

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴿٣٦﴾

هغه وويل: پروردګاره! د حشر تر ورځې راته د ژوند مهلت راکړه.

قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ﴿٣٧﴾

(الله تعالی) وفرمايل: تاته( د قيامت تر ورځې) د ژوند کولو مهلت منظور دی.

إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ ﴿٣٨﴾

تر هغی ورځې چې ټاکلې نيټه يې( يوازې ما ته) معلومه ده.

قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَأُغۡوِيَنَّهُمۡ
أَجۡمَعِينَ ﴿٣٩﴾

ابليس وويل: ای ربه! لکه څنګه چې دې زه بې لارې کړم، زه به هم( ټول بد کارونه) په ځمکه کې انسانانو ته ښه ښکاره کړم( ترڅو د ناوړو اعمالو ارتکاب ورته اسانه شی) او ټول به له يوې مخې بې لارې کړم.

إِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٤٠﴾

خو ستا مخلص(او له  ظاهری او باطنی گناهونو نه پاک) بندگان به دې رانه خلاص وی.

قَالَ هَٰذَا صِرَٰطٌ عَلَيَّ مُسۡتَقِيمٌ ﴿٤١﴾

( الله تعالی) وفرمایل:همدغه( له ناوړو اعمالو نه پاک پاتې کیدل) زما مستقیمه لار ده.

إِنَّ عِبَادِي لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٌ إِلَّا مَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ﴿٤٢﴾

زما په غوره بندگانو به ستا هیڅ وس او توان ونه رسی، یوازې په هغو گمراهانو به برلاسی یې چې ستا پیروی کوی.

وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوۡعِدُهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٤٣﴾

او له هغو ټولو سره د دوزخ وعده ده.

لَهَا سَبۡعَةُ أَبۡوَٰبٖ لِّكُلِّ بَابٖ مِّنۡهُمۡ جُزۡءٞ مَّقۡسُومٌ ﴿٤٤﴾

هغه(دوزخ) چې اوه دروازې لری او هره یوه یې (د شیطان د پیروانو) د بیلا بیلو ډلو لپاره ځانگړې شوې ده.

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ ﴿٤٥﴾

او بیشکه چې پرهیزگاران به له( رڼو) چینو نه په ډکو جنتونو کې وی.

ٱدۡخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ءَامِنِينَ ﴿٤٦﴾

( ورته به ویل کیږی چې) په امن او سلامتی سره  جنتونو ته ننوزئ.

وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلٍّ إِخۡوَٰنًا عَلَىٰ سُرُرٖ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٤٧﴾

او له زړونو نه به یې( ذات البینی) کینه او دښمنی ورکه شی او( په مجللو) تختونو به د ورونو په شان یوبل ته مخامخ ناست وی.

لَا يَمَسُّهُمۡ فِيهَا نَصَبٞ وَمَا هُم مِّنۡهَا بِمُخۡرَجِينَ ﴿٤٨﴾

نه به ورباندې څه ستړیا او تکلیف وی او نه به له جنت نه وویستل شی.

۞ نَبِّئۡ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٤٩﴾

(ای پیغمبره !) بندگانو ته مې اعلان وکړه چې زه( په مؤمنانو) ډیر زیات بښونکی او مهربان  یم.

وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ ٱلْعَذَابُ ٱلْأَلِيمُ ٥٠

خو د ( مجرمانو لپاره مې) عذاب ډير سخت او دردوونکی دی.

وَنَبِّئْهُمْ عَن ضَيْفِ إِبْرَٰهِيمَ ٥١

او هغوی ته د ابراهيم د ميلمنو داستان هم بيان کړه.

إِذْ دَخَلُوا۟ عَلَيْهِ فَقَالُوا۟ سَلَٰمًا قَالَ إِنَّا مِنكُمْ وَجِلُونَ ٥٢

کله چې (ميلمانه) ابراهيم ته ورغلل، سلام يې پرې ووايه.(ابراهيم ورته له ښه راغلاست وروسته ډوډۍ راوړه خو چې ويې ليدل ميلمانه لاس نه وروړی) ويې ويل: مونږ خو درنه وويريدو.

قَالُوا۟ لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٍ ٥٣

هغوی وويل: مه ويريږه، مونږ درته د يوه هوښيار هلک( زوی) زيری درکوو.

قَالَ أَبَشَّرْتُمُونِي عَلَىٰٓ أَن مَّسَّنِيَ ٱلْكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ ٥٤

ابراهيم( په حيرانتيا) وويل: ماته په دې زړښت او عمر خوړلی حالت کې( د اولاد) زيری؟ دا څنګه زيری دی؟

قَالُوا۟ بَشَّرْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلْقَٰنِطِينَ ٥٥

ميلمنو وويل: په حقه او رښتيا درته زيری درکوو، نو مايوسه کيږه مه.

قَالَ وَمَن يَقْنَطُ مِن رَّحْمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا ٱلضَّآلُّونَ ٥٦

( ابراهيم) وويل:( زه نااميده نه يم ځکه )د خپل رب له رحمته خو يوازې ګمراهان نااميده کيږی.

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا ٱلْمُرْسَلُونَ ٥٧

بيا يې( له ميلمنو) وپوښتل: ای د (الله) استازو:( د زيری نه علاوه مو) د راتګ مهم ماموريت څه دی؟

قَالُوٓا۟ إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ٥٨

هغوی وويل: مونږ د( لوط ) د مجرم قوم د (له منځه وړلو لپاره) راليږل شوی يو.

إِلَّآ ءَالَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمْ أَجْمَعِينَ ٥٩

خو يوازې د لوط کورنۍ مستثنی ده چې نجات به ورکړو.

إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ قَدَّرۡنَآ إِنَّهَا لَمِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ٦٠

البته ښځه به یې( له حق څخه د انکار له امله د تباه کیدونکو ښاریانو سره) پاتې کیږي.

فَلَمَّا جَآءَ ءَالَ لُوطٍ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ٦١

نو کله چې د الله تعالی استازی د لوط کورنۍ ته ورغلل.

قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ ٦٢

لوط وويل: تاسو خو زما لپاره بیخی ناآشنا یاست.

قَالُواْ بَلۡ جِئۡنَٰكَ بِمَا كَانُواْ فِيهِ يَمۡتَرُونَ ٦٣

هغوی وویل:( مونږ پرښتې یو) او هغه (عذاب) مو درته راوړی چې ستا قوم پکې شک او تردید درلود.

وَأَتَيۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ٦٤

او د یوه مسلم او قاطعانه واقعیت( الهی عذاب)سره تاته راغلی یو او بیشکه چې مونږ رښتیا ویونکی یو.

فَأَسۡرِ بِأَهۡلِكَ بِقِطۡعٖ مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَٱتَّبِعۡ أَدۡبَٰرَهُمۡ وَلَا يَلۡتَفِتۡ مِنكُمۡ أَحَدٞ
وَٱمۡضُواْ حَيۡثُ تُؤۡمَرُونَ ٦٥

نو د شپې په یوه برخه کې خپله کورنۍ له دې ځایه وباسه او ته هم ورپسې لاړ شه او هیڅ یو تن مو بیرته شاته مه ګوري( او ښار ته مه راګرځئ) او چیرته چې درته حکم کیږي لاړ شئ.

وَقَضَيۡنَآ إِلَيۡهِ ذَٰلِكَ ٱلۡأَمۡرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقۡطُوعٞ
مُّصۡبِحِينَ ٦٦

او د دې لویې پیښې (کیفیت مو لوط ته د ملایکو په واسطه) بیان کړ چې( سپیده داغ مهال به) د مجرمینو د تباهۍ عملیات پیل (او تر لمر ختلو به یې )جرړې په کامله توګه وخیژي.

وَجَآءَ أَهۡلُ ٱلۡمَدِينَةِ يَسۡتَبۡشِرُونَ ٦٧

او ښاریان( چې د ښکلو ځوانانو له راتګه خبر شول ) یو بل ته د مبارکۍ په ویلو سره (په خوښۍ او خوشحالۍ د لوط کور ته) راغلل.

قَالَ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ ضَيۡفِي فَلَا تَفۡضَحُونِ ٦٨

لوط وويل: دا خو زما میلمانه دی، پام چې رسوا مې نه کړی.

وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ ٦٩

او له الله تعالی نه وویرېږی او ما مه سپکوی.

قَالُوٓاْ أَوَلَمۡ نَنۡهَكَ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٧٠

هغوی وویل: آیا ته مو له خلکو سره له اړیکو، نه وې منع کړی؟

قَالَ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيٓ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ ٧١

لوط وویل: که عاقلانه او منطقی کار کوئ نو زما لونه شته(او د قوم نورې نجونی هم چې زما معنوی لونه دی تاسو ته د واده او حلالې نکاح لپاره ډیرې مناسبې دی).

لَعَمۡرُكَ إِنَّهُمۡ لَفِي سَكۡرَتِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ٧٢

( ای پیغمبره!) ستا په عمر او ژوند قسم، چې دوی پخپله مستی کې ډوب او لالهانده وو.

فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ مُشۡرِقِينَ ٧٣

چې د لمر څرک سره سم یوې (وژونکې او وحشتناکې چیغې) صیحې راونیول.

فَجَعَلۡنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ حِجَارَةٗ مِّن سِجِّيلٍ ٧٤

نو هغه ښار مو په بل مخ راواړاوه او د کلالی کانو باران مو وربانديې ووراوه.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّلۡمُتَوَسِّمِينَ ٧٥

په دې( لویه غمیزه او له عبرت نه ډکه واقعه کې) د هوښیارانو او څیرونکو لپاره( د الله تعالی د قدرت او د مجرمینو د ذلت او رسوایی) ډیر دلایل او شواهد نغښتی دی.

وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٖ مُّقِيمٍ ٧٦

او د لوط د ښار( اثار او پاتې شونی) تر اوسه د خلکو د تګ راتګ د لارې په سر واقع دی.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ٧٧

په دغه (پيښه او دغه مخروبه ښار) کې د باور کوونکو لپاره له عبرت نه ډک درسونه پراته دی.

وَإِن كَانَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَيۡكَةِ لَظَٰلِمِينَ ٧٨

او بې له شکه( د شعيب قوم ) اهل ايکه يا (د ځنګله اوسيدونکی) ظالمان وو( د کفر او شرک نه علاوه يې په لويو لارو خلک لوټل او په تله ترازو کې يې ټګی کوله).

فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٖ مُّبِينٖ ٧٩

بالاخره ترې مونږ( په سختنه سزا سره) انتقام واخست او د دغو دواړو( لوط او شعيب) تباه شوی ښارونه( د شام او حجاز) د لويې لارې په سر پراته دی.

وَلَقَدۡ كَذَّبَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡحِجۡرِ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٨٠

او د حجر( د ښار) اوسيدونکو ثموديانو( چې د مدينې په شمال کې آباد وو او صالح عليه السلام ورته د پيغمبر په حيث ليږل شوی و، د هغه په تکذيبولو سره ټول) پيغمبران دروغ وګڼل.

وَءَاتَيۡنَٰهُمۡ ءَايَٰتِنَا فَكَانُواْ عَنۡهَا مُعۡرِضِينَ ٨١

او مونږ هغوی ته خپل ځرګند او واضح آيتونه او معجزې ورانديې کړې خو له ټولو يې مخ واړاوه.

وَكَانُواْ يَنۡحِتُونَ مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتًا ءَامِنِينَ ٨٢

او په ډاډ او اطمينان سره يې غرونه کيندل او کورونه( او قصرونه) يې پکې جوړول( او فکر يې کاوه چې په دې مستحکمو کورونو کې به په امن کې پاتې شی).

فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ مُصۡبِحِينَ ٨٣

خو بالاخره سهار وختی يوې (وژونکې، وحشتناکې او زړه بوګنووکې چيغې) صيحې راونيول.

فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٨٤

او( مستحکمو او پخو قصرونو) او ګټلی مال او شتمنيو (د الله تعالی له عذابه) خلاص نه کړی شول.

وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۗ وَإِنَّ
ٱلسَّاعَةَ لَأٓتِيَةٞۖ فَٱصۡفَحِ ٱلصَّفۡحَ ٱلۡجَمِيلَ ٨٥

او آسمانونه او ځمکه او د هغو ترمنځ ټول موجودات مونږ په حقه( او کامل حکمت او تدبير سره)  پيدا کړی او قيامت بې له شکه راتلونکی دی نو( د کافرانو او مکذبانو لجاجت او عناد) په نيک صبر او استقامت وزغمه.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلۡخَلَّٰقُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٨٦﴾

بيشکه چې ستا رب ډير پوه خلاق  ذات دی.

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَٰكَ سَبۡعٗا مِّنَ ٱلۡمَثَانِي وَٱلۡقُرۡءَانَ ٱلۡعَظِيمَ ﴿٨٧﴾

او تاته (د سورة حمد) اوه  آيتونه ( چې  د  هر لمانځه په هر رکعت کې) تکراريږی او عظيم الشأن  قرآن درکړی شوی دی.

لَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّنۡهُمۡ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ
وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٨٨﴾

نو له دې امله هغو مادی امکاناتو او مال او اولاد ته چې مونږ د کافرانو ځينو ډلو ته ورکړی، سترګې مه نيسه، او( د هغوی په عناد او انکار)هم مه خواشينی کيږه، بلکه مؤمنان د خپلې مهربانی او شفقت په غيږ کې ونيسه.

وَقُلۡ إِنِّيٓ أَنَا ٱلنَّذِيرُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٨٩﴾

او( انکار کوونکو ته) ووايه چې زه په علنی توګه اخطار درکوونکی يم.

كَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَى ٱلۡمُقۡتَسِمِينَ ﴿٩٠﴾

(د هغه عذاب د راتګ اخطار درکوونکی  چې ستاسو نه وړاندې) په فرقه جوړوونکو( يهودو) نازل شوی دی.

ٱلَّذِينَ جَعَلُواْ ٱلۡقُرۡءَانَ عِضِينَ ﴿٩١﴾

هغوی چې قرآن  يې  برخې  برخې  کړ( ځينې احکام  يې ومنل  او له ځينو يې انکار وکړ).

فَوَرَبِّكَ لَنَسۡـَٔلَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٩٢﴾

(ای پيغمبره) ستا په رب  قسم چې له دغو ټولو به پوښتنه وکړو.

عَمَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٩٣﴾

د دوی د اعمالو.

فَٱصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿٩٤﴾

**نو هغه احکام په ډاګه بیانوه چې تاته یې د (اعلانولو) امر کیږی او د مشرکانو پروا مه ساته.**

إِنَّا كَفَيۡنَٰكَ ٱلۡمُسۡتَهۡزِءِينَ ﴿٩٥﴾

**د مسخره کوونکو په مقابل کې، زمونږ دفاع او ملاتړ ستا لپاره کفایت کوی .**

ٱلَّذِينَ يَجۡعَلُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۚ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ﴿٩٦﴾

**هغه کسان چې له الله تعالی سره په خدایی کې بل شریک نیسی، زر به پخپله تیروتنه پوه شی.**

وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدۡرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ﴿٩٧﴾

**مونږ پوهیږو چې د مشرکانو په خبرو، ستا زړه زوریږی.**

فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٩٨﴾

**نو( د خپل خفګان د لیرې کولو لپاره) تل د خپل رب تسبیح او ثنا وایه او سجده کوونکی اوسه.**

وَٱعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأۡتِيَكَ ٱلۡيَقِينُ ﴿٩٩﴾

**او د مرګ تر شیبې د خپل رب عبادت کوه.**

**« تمت سورة الحجر و لله الحمد والمنة»**

**======================**